www.gmic.gov.af

# آرګ پاڼه
پنځه شپېتمه ګڼه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: شوال المکرم ۱۸مه، کال ۱۴۴۶ هجري قمري


## د ستندرډ عالي شورا له لوري په بېلابېلو برخو کې ۳۰ ستندرډونه تصويب شول

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ستندرډ عالي شورا دربيمه نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، چې د ستندرډ ملي ادارې لوی رئيس ملا فيض‌الله تميم او د دې شورا دايمي غړو په‌کې حضور درلود.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د دې شورا په غونډو کې د افغانستان د توليداتو پر کيفيت بحث کېږي او د ښه کېدو او تضمين په موخه يې معياري ستندرډونه تصويبېږي. دا ستندرډونه توليداتو ته نړيوال اعتبار ورکوي او په ورته وخت کې د صادراتو په زياتوالي کې هم مهم رول لري.

ورپسې د ستندرډ ملي ادارې لوی رئيس...

۶

## عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله تعالی د پکتيا ولايت له والي او د ياد ولايت د ټولو امارتي ادارو مسئولينو سره وکتل

۵

## حنفی: همسایگان ما باید از اخراج غیر اصولی و اذیت مهاجرین دست بردارند

۲

## د افغانستان اسلامي امارت د رئيس الوزراء په مشرۍ د افغان مهاجرينو سره د ناوړه چلن او د جبري اخراج په اړه ځانګړې غونډه وشوه



## آغاز سروی و دیزاین چهار بند بزرگ آب در سال روان



۶


## کار ساخت هفت شبکهٔ آبرسانی به ارزش ۳۲ میلیون افغانی در بامیان آغاز شد

مسئولان محلی در بامیان می‌گویند که کار ساخت هفت شبکهٔ آب آشامیدنی صحی به ارزش ۳۲ میلیون افغانی در ولسوالی یکه‌ولنگ نمبر ۱ این ولایت آغاز شده‌است.

به‌گفته سخنگوی والی بامیان، این پروژه‌ها که به حمایت مالی بانک جهانی در مناطق مختلف ولسوالی یکه‌و لنگ نمبر۱ تطبیق می‌گردد، زمینهٔ دسترسی ۱۲۰۰ خانواده، ۱۴ باب مسجد، یک مدرسه دینی و سه باب مکتب را به آب آشامیدنی صحی فراهم می‌سازد.#



## د رياست الوزراء اداري مرستيال په کنړ ولايت کې د کډوالو نوی ښارګوټی پرانيست



۲




## لغمان کې تېر کال د څه باندې يو ميليارد افغانيو په ارزښت پراختيايي پروژې پلې شوې دي



د لغمان د والي مرستيال وايي، تېر لمريز کال د لغمان په مرکز او ولسواليو کې د يو ميليارد او ۲۴ ميليون افغانيو په لګښت پراختيايي پروژې پلې شوې دي...

۲

## تبلیغات سالم؛ مسئولیت رسانه‌ها در ساختن جامعه آگاه

رسانه‌ها نقش کلیدی در شکل‌دهی افکار عامه و ترویج ارزش‌های مثبت در جامعه دارند. تبلیغات زمانی سالم و سازنده است که بر مبنای صداقت، شفافیت و احترام به شعور مخاطب باشد.

تبلیغات نباید ابزار فریب، افراط و تفریط یا ترویج مصرف‌گرایی بی‌رویه گردد، بلکه باید به آگاهی‌دهی، تشویق به سبک زندگی سالم، حمایت از تولیدات داخلی و حفظ محیط زیست تمرکز داشته باشد.

رسانه‌های مسئول، با انتخاب پیام‌های مثبت و آموزنده، می‌توانند نسل نو را با ارزش‌های اخلاقی، همبستگی اجتماعی و روحیهٔ سازندگی آشنا سازند. بیاییم تبلیغات را به ابزاری برای رشد فکری و فرهنگی جامعه بدل کنیم.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون د دولس ګونو کمېټو رئيسانو غونډه وکړه

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون د دولس ګونو کمېټو د رئيسانو غونډه د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ، د دغو کمېټو د رئيسانو او د ياد کمېسيون د ځينو اعضاوو په ګډون، ترسره شوه.

دا غونډه د هغو کډوالو د ستونزو د حل په موخه...

۲

سرمقاله

# امارت اسلامی؛ مسیر دشوار حکومت‌داری و امید به آینده


با روی‌کار آمدن امارت اسلامی در ماه آگست سال ۲۰۲۱ میلادی، این نظام کوشیده است تا ساختار حکومتی را مبتنی بر ارزش‌های اسلامی و اصول شریعت ایجاد کند. علی‌رغم چالش‌های متعدد اقتصادی و سیاسی، امارت اسلامی در برخی حوزه‌ها نظیر تأمین امنیت و نظم عمومی، مبارزه با فساد، ایجاد نظام قضایی اسلامی، مدیریت اقتصادی و مالی، توسعه روابط دیپلماتیک، گسترش زراعت و تجارت، و سامان‌دهی کمک‌های بشردوستانه اصلاحات قابل توجهی را به اجرا گذاشته است.

1. **تأمین امنیت سراسری:** یکی از اولویت‌های کلیدی امارت اسلامی پس از استقرار مجدد، برقراری و تامین امنیت در سراسر کشور بوده است. با خروج نیروهای خارجی از افغانستان، امارت اسلامی تلاش کرده است تا با کنترل کامل کشور، میزان جرایم سازمان‌یافته، آدم‌ربایی و فساد را از طریق انجام عملیات‌های نظامی علیه گروه‌های مسلح، کاهش سرقت و اختطاف، ایجاد ایست‌های بازرسی امنیتی در شهرها، و خلع سلاح گروه‌های غیررسمی به‌طور محسوسی کاهش دهد.
2. **مبارزه با فساد اداری:** در سه سال اخیر، امارت اسلامی در راستای مبارزه با فساد اداری به دستاوردهای ملموسی نائل آمده است. این اقدامات شامل حذف کارمندان متهم به فساد از ادارات دولتی، افزایش شفافیت در جمع‌آوری عواید گمرکی و معادن، و همچنین نظارت مستقیم بر عملکرد مقامات دولتی و قضایی بوده است. این رویکردها در جهت پاک‌سازی نهادهای دولتی از فساد و ریشه‌کن کردن این معضل، گام‌های مؤثر و عملی محسوب می‌شوند.
3. **اصلاح نظام عدلی و قضایی:** با روی‌کار آمدن امارت اسلامی، نظام عدلی و قضایی کشور مبتنی بر اصول شریعت اسلامی بازسازی شده است. از جمله اصلاحات اساسی در این حوزه می‌توان به حذف قوانین غربی، جایگزینی آن‌ها با احکام شریعت اسلامی، تشکیل محاکم شرعی برای رسیدگی به دعاوی حقوقی و جنایی، اجرای حدود اسلامی برای برخی جرایم، و تلاش برای ارائه قضاوت عادلانه و سریع‌تر نسبت به گذشته اشاره کرد.
4. **مدیریت اقتصادی و مالی:** پس از خروج نیروهای خارجی، افغانستان با بحران اقتصادی مواجه شد. بااین‌حال، امارت اسلامی با اتخاذ سیاست‌های مقتضی، اقداماتی درخور توجهی برای مدیریت شرایط اقتصادی کشور انجام داده است. از جمله این اقدامات می‌توان به کنترل نرخ ارز و جلوگیری از سقوط ارزش پول ملی، تلاش برای احیای نظام بانکی و پرداخت حقوق کارکنان، ایجاد فرصت‌های جدید برای سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی، افزایش میزان صادرات به کشورهای همسایه، منطقه و جهان، و مدیریت منابع داخلی به‌منظور کاهش وابستگی به کمک‌های خارجی اشاره کرد.
5. **توسعه زیرساخت‌ها:** با وجود محدودیت‌های مالی، امارت اسلامی در بازسازی و اجرای پروژه‌های زیربنایی گام‌های مؤثری برداشته است. در سه سال اخیر، آغاز پروژه‌های ملی و زیربنایی، بازسازی جاده‌های تخریب‌شده، توسعه راه‌های ارتباطی، مدیریت منابع آبی برای حمایت از دهقانان، و توسعه پروژه‌های انرژی برق به‌عنوان اولویت‌های کلیدی در برنامه‌های حکومت مورد توجه قرار گرفته است.
6. **گسترش روابط دیپلوماتیک و تعاملات بین‌المللی:** در سه سال گذشته، امارت اسلامی تلاش کرده است تا روابط دیپلوماتیک خود را با کشورهای منطقه و جهان توسعه دهد. برگزاری نشست‌های دیپلماتیک با کشورهای همسایه، جلب حمایت بین‌المللی برای کمک‌های بشردوستانه و سرمایه‌گذاری در افغانستان، مذاکره با سازمان‌های بین‌المللی برای رفع تحریم‌ها و آزادسازی دارایی‌های مسدودشده، و فعال‌سازی مجدد نمایندگی‌های سیاسی افغانستان در برخی کشورها از جمله اقدامات مهم در این حوزه بوده است.
7. **توسعه زراعت و تجارت:** زراعت یکی از ارکان اساسی اقتصاد افغانستان محسوب می‌شود. امارت اسلامی، با توجه به اهمیت زراعت در کشور، تقویت این سکتور را در صدر اولویت‌های خود قرار داده است. حمایت و تجهیز دهقانان، افزایش تولیدات داخلی، ارائه تسهیلات مالیاتی، و توسعه تجارت با کشورهای همسایه، منطقه و جهان از جمله سیاست‌های اتخاذشده در این زمینه است.
8. **مدیریت کمک‌های بشردوستانه:** علی‌رغم مشکلات اقتصادی، امارت اسلامی در همکاری با سازمان‌های بین‌المللی تلاش کرده است تا کمک‌های بشردوستانه را به‌صورت شفاف و عادلانه به نیازمندان برساند. ایجاد مراکز توزیع مواد غذایی برای بی‌جاشدگان داخلی و افراد نیازمند، نظارت بر مصرف کمک‌های بین‌المللی، و همکاری با نهادهای خیریه از جمله اقدامات انجام‌شده در این راستا بوده است.

امارت اسلامی در سه سال گذشته، علی‌رغم چالش‌های اقتصادی، سیاسی و بین‌المللی، توانسته است در حوزه‌هایی مانند تأمین امنیت، مبارزه با فساد، احیای اقتصادی و توسعه روابط دیپلوماتیک اقداماتی انجام دهد. بااین‌حال، موفقیت این حکومت وابسته به توانایی آن در حل مشکلات داخلی، بهبود شرایط معیشتی مردم، کاهش انزوای بین‌المللی و جلب حمایت‌های منطقه‌ای و جهانی خواهد بود.#

**نویسنده: حشمت ناصری**

## لغمان کې تېر کال د څه باندې یو میلیارد افغانیو په ارزښت پراختیایي...



...د لغمان ولایت د والي مرستیال مولوي اخترمحمد مزمل د یوه خبري کنفرانس پر مهال وویل، د دولتي او غیر دولتي ډونرانو په مالي ملاتړ یې د تېر ۱۴۰۳ مالي کال له پیله تر پایه پورې د مرکز مهترلام سربېره په پنځه‌ګونه ولسوالیو کې په بېلابېلو برخو کې ۸۸ پراختیایي پروژې پلان کړې وې چې له جملې یې ۵۲ بشپړې شوې او پر ۳۶ نورو یې لا هم کار روان دی.

هغه وویل، پر یادو پراختیایي پروژو باندې یو میلیارد او ۲۴ میلیونه افغانۍ لګښت شوی چې ۱۶ غټې او وړې پروژې د حکومت له بودجې او پاتې ۷۲ یې د نړۍ‌والو مرستندویه ادارو له خوا تمویل شوې دي.#

## د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء په مشري د افغان...



...د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء الحاج محترم ملا محمد حسن اخند په مشري د افغان مهاجرینو سره د ناوړه چلن او د جبري اخراج په اړه ځانګړې غونډه وشوه.

په دې غونډه کې د کابینې د نورو اعضاوو تر څنګ د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبد السلام حنفي او د مهاجرینو او بیرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر ګډون کړی و.

د غونډې ګډونوالو د افغان مهاجرینو سره د غیر اسلامي او غیر انساني چلن په کلکو ټکو وغندل، دغه کړنه یې د ټولو اسلامي ارشاداتو او نړیوالو اصولو او د ګاونډیتوب د حقوقو خلاف عمل وباله، همدارنګه د پاکستان له ولس سیاسي ګوندونو علماوو او بانفوذه شخصیتونو څخه یې غوښتنه وکړه تر څو دوی هم په دې اړه خپل اسلامي او د ګاونډیتوب مسئولیت ادا کړي.

غونډې پر ملګرو ملتونو او نړیوالو سازمانونو غږ وکړ، چې د دغه انساني ناورین په مخنیوي او د افغان مهاجرینو په با عزته توګه راستنېدو کې خپل مسئولیت ادا کړي.

همدارنګه د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون ته دنده و سپارل شوه چې د تېر په څېر له خپلو ټولو موجوده امکاناتو څخه همه‌جانبه استفاده وکړي، تر څو راستانه شوو افغانانو ته لازم تسهیلات، موقت هستوګنځي، او خدمات ژر تر ژره برابر شي.#

## حنفی: همسایگان ما باید از اخراج غیر اصولی و اذیت...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء در حالیکه از سوی تعدادی از اعضای کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین، مسئولین کمیته‌های کمیسیون متذکره، والی ولایت ننگرهار و مسئولین محلی همراهی می گردید، از کمپ عمری در تورخم بازدید بعمل آورد.

در این جریان این بازدید، محترم مولوی عبدالسلام حنفی با رؤسای کمیته های کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین جلسه نمود و جریان کار کمیته ها را بررسی و وضعیت مهاجرین اخراج شده را از نزدیک مشاهده کرد.

رئیس کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین در رابطه به اخراج اجباری مهاجرین توسط کشورهای همسایه صحبت نموده، گفت که همسایگان ما باید از اخراج غیر اصولی و آزار و اذیت مهاجرین خودداری نمایند.

وی همچنان از سازمان های بین المللی خواست که در زمینه تأمین حقوق مهاجرین مسئولیت خود را ادا نمایند و از افغان ها و تاجران ملی کشور در داخل و خارج نیز تقاضا نمود تا در این برهه حساس مسئولیت شان را در قبال برادران مهاجر خویش ادا نموده و در حد توان کمک‌های خود را به آنان ادامه دهند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی خاطر نشان کرد که ملت های افغانستان و پاکستان دارای روابط تاریخی، فرهنگی، اجتماعی و دینی بوده و اذیت، آزار و اخراج اجباری مهاجرین باعث صدمه در روابط دوطرف خواهد شد و از علماء، سیاسیون و ملت پاکستان خواست که در این عرصه مسئولیت خود را اداء نمایند تا با مهاجرین ظلم صورت نگیرد.

رئیس کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین و هیئت همراه شان که این سفر را جهت بررسی وضعیت مهاجرین انجام داده اند، مشکلات، مهاجرین عودت کننده را بررسی نموده و به کمیته‌های ذیربط وظیفه سپردند تا به مشکلات و ضروریات هموطنان مهاجردر اسرع وقت رسیدگی صورت گیرد.

قابل یاد آوری است که در این بازدید یک شهرک برای مهاجرین بنام قاسم آباد در حدود سه هزار جریب زمین که گنجایش بیش از چهار هزار فامیل مهاجر را دارد، نیز افتتاح گردید و به مستحقین توزیع خواهد شد.#

## د ریاست الوزراء اداري مرستیال په کنړ ولایت کې د کډوالو نوی...

...د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په داسې حال کې چې د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون غړو، د کمېټو مسئولینو او ځایي چارواکو یې ملتیا کوله د کنړ ولایت په خاص کنړ ولسوالۍ کې راستنېدونکو کډوالو ته نوی ښارګوټی پرانیست.

په دې مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي څرګنده کړه، د اسلامي امارت مشران او مسئولین ټولو هیوادوالو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو او خدمت ته ژمن دي او په دې برخه کې خپلې هیڅ راز هڅې نه دریغوي.

د ریاست الوزراء ادراي مرستیال او د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون رئیس وویل، په دې وروستیو کې ځینو ګاونډیو هیوادونو په اجباري توګه افغان کډوال رااېستلي چې دا چاره د ګاونډیتوب او بین المللي قوانینو خلاف ده، د اسلامي امارت مسئولین به په خپلو ټولو امکاناتو د راستنو شویو افغان کډوالو خدمت وکړي، ترڅو زموږ وطنوال خپلو ولایتونو او ولسوالیو ته تر لېږد وروسته باعزته ژوند ولري.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال په خپلو خبرو کې هغو افغانانو، ملي سوداګرو او خیریه شخصیتونو ته چې د هیواد په داخل یا بهر کې اوسي او مالي توان لري په خطاب کې وویل، په دې ډول شرایطو کې باید خپل دیني او انساني مسئولیت اداء او د خپل توان په اندازه له کډوالو سره مرستې ترسره او د خپلو وطنوالو د ستونزو په حلولو کې ونډه واخلي.

همداراز اسلامي هیوادونه او بین المللي سازمانونه دا مسئولیت لري چې د کډوالو د حقونو تأمین او د هغوی د ستونزو حلولو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

د یادونې وړ ده چې دغه ښارګوټی د کنړ ولایت په خاص کنړ ولسوالۍ کې موقعیت او ۳۸۲ جریبه مساحت لري چې د شفافې پروسې له لارې به مستحقو راستنو شویو کډوالو ته ووېشل شي.

د دغو مراسمو په پای کې یو شمېر کډوالو ته چې مستحق پېژندل شوي وو، د یوې یوې نمرې ځمکې فورمه او یوه اندازه نغدي مرسته ورکول شوه.#

## د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون د دولس ګونو...

...چې په اجباري توګه له ګاونډیو هیوادونو څخه را ایستل کېږي، جوړه شوې وه، د یادې موضوع له هراړخیزې ارزونې وروسته مؤظفو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې د خپلو کاري استقاماتونو په چوکاټ کې راستنېدونکو کډوالو ته د غوره خدماتو برابرولو هڅې او لازم اقدمات او د هغوی د ستونزو حل ته جدي پاملرنه وکړي.#




Issue #65

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan Leads Special Meeting on Inhumane Treatment and Forced Expulsion of Afghan Migrants



A special meeting was convened under the leadership of the, Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mullah Mohammad Hasan Akhund, to address the inhumane treatment and forced expulsion of Afghan migrants.


The meeting was attended by other Cabinet members, including Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs; Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs; and Mawlawi Abdul Kabir,...ContP#4

## Deputy Prime Minister Inaugurates New Refugee Township in Kunar Province



Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, officially inaugurated a new refugee township in the Khas Kunar district of Kunar province. The ceremony was attended by members of the High Commission for...ContP#4

## 350 Returnees Receive Health Services Daily at the Torkham Refugee Camp



Officials at the temporary refugee camp in Torkham Township report that, on average, 350 returnees seek health services at the camp's medical facility each day.

The authorities emphasize that comprehensive facilities have been provided for returnees, particularly in the health services sector.

Several deported migrants have indicated that the mistreatment they experienced in Pakistan has led to significant psychological challenges.

According to the camp officials in Torkham Township, approximately 100 families are transferred daily by the Islamic Emirate to their home provinces. #

## High Commission Holds Meeting to Address Issues of Forcibly Repatriated Refugees

A meeting was held with the heads of twelve committees of the High Commission for Addressing Refugee Issues, chaired by Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs. The meeting was attended by the committee heads and members of the Commission.

The primary focus of the meeting was to address the challenges faced by refugees who have been forcibly repatriated from neighboring countries. After a thorough evaluation of the issue, the respective committees were tasked with ensuring that, within the scope of their mandates, they provide optimal services to returning refugees, take necessary actions, and give due attention to resolving their issues effectively. #

## Deputy PM Hanafi Calls for an End to Unjust Deportations and Refugee Harassment

Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, conducted an official visit to the Omari Camp in Torkham, accompanied by several members of the High Commission for Addressing Refugee Issues, committee leaders, the Governor of Nangarhar Province, and other local officials...ContP#4

## Muttaqi Urges the United States to Acknowledge Afghanistan's Realities and Engage with the Islamic Emirate



Mawlawi Amir Khan Muttaqi, the Acting Minister of Foreign Affairs of Afghanistan, stressed the necessity for the United States to comprehend Afghanistan's current realities and engage constructively with the Islamic Emirate, during a meeting with Afghan refugees in Jeddah, Saudi Arabia.

Minister Muttaqi remarked that he had conveyed to the American delegation, which recently visited Kabul, that the...ContP#4

## Kandahar Launches Vocational Training for 600 Recovering Addicts



In Kandahar province, vocational training programs are being implemented for 600 individuals recovering from drug addiction.

According to officials at the addiction rehabilitation center, these initiatives are being carried out under the directive of the leadership of the Islamic Emirate, with the primary objective of facilitating employment opportunities for those who have successfully completed addiction treatment.

Medical professionals emphasize that vocational training plays a...ContP#4

# Ministry of Water and Energy to Launch Survey and Design of Four Strategic Dams in 2025

The Ministry of Water and Energy has announced that in the solar year 1404 (2025), comprehensive survey and design operations will begin for four major water dam projects located in the provinces of Takhar, Ghazni, Herat, and Baghlan. Experts view the development of large-scale water infrastructure across various regions of the country as a strategic move toward enhanced water resource management, agricultural advancement, and increased energy production capacity. It is noteworthy that several large dam construction and water diversion projects are already underway nationwide. Citizens continue to express hope that the Islamic Emirate will intensify efforts to attract both domestic and international investment and to foster job creation through such vital infrastructure initiatives. #

# Kandahar Launches Vocational Training for 600...

...crucial role in alleviating psychological distress and mitigating feelings of isolation among recovering individuals. Based on data from the Kandahar addiction treatment center, approximately 2,000 individuals receive treatment annually. In addition to medical care, beneficiaries are also provided with vocational training and essential toolkits to support their reintegration into the workforce. #

# Deputy Prime Minister Inaugurates New Refugee Township...

...Addressing Refugee Issues, committee officials, and local authorities.

During the event, Deputy Prime Minister Hanafi highlighted that the leadership and officials of the Islamic Emirate are fully committed to providing essential services and facilities to all citizens. He emphasized that they will spare no effort in fulfilling this commitment.

As the Deputy Prime Minister and Chairman of the High Commission for Addressing Refugee Issues, Mawlawi Hanafi condemned the recent forced expulsions of Afghan refugees by certain neighboring countries, calling it a violation of good neighborly relations and international laws. He assured that the Islamic Emirate will utilize all available resources to support returning Afghan refugees, ensuring they lead dignified lives upon their return to their home provinces and districts.

In his remarks, Deputy Prime Minister Hanafi also appealed to Afghan citizens, national traders, and charitable individuals, both within the country and abroad, to fulfill their religious and humanitarian responsibilities. He urged them to offer support to the refugees to the best of their ability and contribute to resolving the challenges faced by their fellow countrymen. Furthermore, he emphasized the responsibility of Islamic nations and international organizations to prioritize the protection of refugee rights and address their issues with the utmost attention.

It is important to note that the new township is located in the Khas Kunar district of Kunar province and spans an area of 382 jeribs. The land will be allocated to eligible returning refugees through a transparent process.

At the conclusion of the ceremony, eligible refugees were provided with land allocation forms and a cash assistance grant. #

# Deputy PM Hanafi Calls for an End to Unjust Deportations...

...During the visit, Deputy PM convened a meeting with the heads of the Commission's committees to review their operations and directly assess the condition of forcibly returned Afghan refugees.

The Chairman of the High Commission raised serious concerns regarding the forced deportation of Afghan refugees by neighboring countries, stressing that such unprincipled removals and mistreatment must come to an immediate end. He further called on international organizations to fulfill their responsibilities in safeguarding refugee rights. In addition, he appealed to Afghan citizens and national entrepreneurs, both within the country and abroad, to stand in solidarity with displaced compatriots by providing ongoing support during this critical period.

Hanafi highlighted the deep historical, cultural, social, and religious ties between the people of Afghanistan and Pakistan. He warned that the forced expulsion and harassment of refugees would undermine bilateral relations. He urged Pakistani religious scholars, political leaders, and civil society to fulfill their moral obligations and ensure humane treatment of Afghan refugees.

The delegation, led by the High Commission for Addressing Refugee Issues, undertook this field visit to evaluate the humanitarian situation and challenges faced by returnees. Following their assessment, relevant committees were assigned the responsibility of urgently responding to the needs and concerns of the affected population.

It is also worth noting that during this visit, the newly established Qasimabad Township—covering approximately 3,000 jeribs of land and capable of housing more than 4,000 refugee families—was officially inaugurated. The township will provide housing plots to eligible and deserving families. #

# Muttaqi Urges the United States to...

...United States must engage with Afghanistan's existing government to foster positive relations moving forward. In addition, he emphasized the critical importance of maintaining stability within Afghanistan to ensure its sustained progress. #

# Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan Leads Special Meeting on Inhumane...

...Acting Minister for Refugees and Repatriates.

The participants of the meeting unequivocally condemned the un-Islamic and inhumane treatment of Afghan migrants, characterizing it as a violation of all Islamic principles, international norms, and the rights of neighboring nations. They called upon the people, political parties, scholars, and influential figures in Pakistan to fulfill their Islamic and neighborly duties in addressing this grave issue.

The meeting also appealed to the United Nations and other international organizations to take urgent action to prevent this humanitarian crisis and to fulfill their responsibilities in ensuring the dignified return of Afghan migrants. In addition, the High Commission for Addressing Refugee Issues was tasked with utilizing all available resources, as it has done in the past, to provide essential facilities, temporary housing, and services to returning Afghan citizens at the earliest possible opportunity. #

# The Islamic Emirate: Transforming Challenges into a Vision for the Future

**By: Hashmat Nasiri**

With the re-establishment of the Islamic Emirate in August 2021, the regime has endeavored to establish a governmental structure based on Islamic values and the principles of Sharia law. Despite facing numerous economic and political challenges, the Islamic Emirate has achieved significant reforms in several areas, including ensuring national security and public order, combating corruption, establishing an Islamic judicial system, managing the economy and finances, enhancing diplomatic relations, expanding agriculture and trade, and organizing humanitarian aid efforts.

1. **Nationwide Security Provision:** One of the primary priorities of the Islamic Emirate, upon its re-establishment, has been to ensure comprehensive security across the country. Following the withdrawal of foreign forces from Afghanistan, the Islamic Emirate has sought to control the country fully, thereby significantly reducing organized crime, abductions, and corruption. This has been accomplished through military operations targeting armed groups, reducing theft and kidnapping, establishing security checkpoints in urban areas, and disarming non-official groups.
2. **Combating Administrative Corruption:** Over the past three years, the Islamic Emirate has made considerable progress in its efforts to combat administrative corruption. This includes the removal of individuals accused of corruption from government offices, enhancing transparency in the collection of customs duties and mining revenues, and directly overseeing the conduct of government and judicial officials. These measures represent substantial steps in purging government institutions of corruption and working toward its eradication.
3. **Reform of the Judicial System:** With the ascent of the Islamic Emirate, the country's judicial system has been restructured according to the principles of Sharia law. Key reforms in this area include the removal of Western-style legal frameworks, their replacement with Sharia-based rulings, the establishment of Sharia courts to adjudicate both civil and criminal cases, the implementation of Islamic punishments for certain offenses, and an emphasis on delivering more prompt and equitable judgments compared to previous systems.
4. **Economic and Financial Management:** Following the departure of foreign forces, Afghanistan faced a severe economic crisis. However, the Islamic Emirate has implemented a series of substantial measures to manage the country's economic conditions. These include controlling exchange rates and preventing the collapse of the national currency, efforts to revive the banking sector and ensure the payment of salaries to public servants, creating opportunities for both domestic and foreign investment, increasing exports to neighboring countries, the region, and globally, and managing domestic resources to reduce dependence on foreign aid.
5. **Infrastructure Development:** Despite financial constraints, the Islamic Emirate has made significant strides in rebuilding and launching infrastructure projects. Over the past three years, national and infrastructure projects have commenced, including the reconstruction of damaged roads, development of communication routes, management of water resources to support farmers, and the advancement of electricity generation projects, all of which have been prioritized in the government's planning.
6. **Diplomatic Relations and International Engagement:** Over the past three years, the Islamic Emirate has worked to expand its diplomatic relations with both regional and global countries. Notable efforts include holding diplomatic meetings with neighboring states, securing international support for humanitarian aid and investment in Afghanistan, negotiating with international organizations to lift sanctions and release frozen assets, and reactivating Afghanistan's diplomatic missions in various countries.
7. **Agriculture and Trade Development:** Agriculture remains a cornerstone of Afghanistan's economy. Given its significance, the Islamic Emirate has placed a high priority on strengthening this sector. Support for farmers, increasing domestic agricultural production, offering tax incentives, and expanding trade with neighboring countries, regional states, and the international community are key components of the policy framework in this area.
8. **Humanitarian Aid Management:** Despite the prevailing economic challenges, the Islamic Emirate has collaborated with international organizations to ensure the equitable and transparent distribution of humanitarian aid to those in need. This includes the establishment of food distribution centers for internally displaced persons and vulnerable populations, oversight of the use of international aid, and cooperation with charitable organizations to ensure aid reaches those who require it most.

In short, in the past three years, despite facing formidable economic, political, and international challenges, the Islamic Emirate has made notable progress in areas such as ensuring security, combating corruption, revitalizing the economy, and expanding diplomatic relations. Nevertheless, the success of this government will ultimately depend on its ability to address internal challenges, improve the living standards of its population, reduce international isolation, and garner regional and global support. #

## د هلمند والي سره د ریاست الوزراء اداري مرستیال...

...مسئولین کډوالو ته د خدماتو او سرپناه برابرولو کې خپلې هڅې نه درېغوي او شپه او ورځ هغوی ته د خدماتو رسولو کوښښ کوي.
د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د هلمند ولایت د محلي مسئولینو د کړنو او فعالیتونو د ستاینې ترڅنګ وویل، د هیوادوالو ستونزو ته رسیدګي او هغوی ته د هوساینې برابرول د اسلامي امارت له دندو او مسئولیتونو څخه دي او لازمه ده چې مسئولین په دې برخه کې زیات کوښښ وکړي.
محترم مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه، هغو کډوالو ته د خدماتو برابرول چې په اجباري توګه له ګاونډیو هیوادونو څخه راایستل کېږي، د هغوی د ستونزو حل د ټولو مسئولینو او هیوادوالو ایماني او انساني دنده ده او د افغانستان اسلامي امارت هغوی ته د سرپناه، انتقال او نورو خدماتو په برابرولو کې له ټولو شته امکاناتو ګټه اخلي.#

## دیدار رئیس عمومی دفتر معاونیت سیاسی ریاست الوزراء با وکلای گذر ۲۲ ناحیه شهر کابل و شماری از ورزشکاران

محترم مولوی ذاکرالله ذاکر رئیس عمومی دفتر معاونیت سیاسی ریاست الوزراء با وکلای گذر ۲۲ ناحیه شهر کابل و شماری از ورزشکاران به گونه جداگانه دیدار نمود.
آنان گفتند که امارت اسلامی نظام برخاسته از میان مردم است و تلاش های مسئولین را در راستای حل مشکلات مردم مورد تقدیر قرار دادند.
وکلای گذر ۲۲ ناحیه شهر کابل که شماری از علماء، متنفذین و نمایندگان اهل تشیع و اهل هنود نیز آنان را همراهی می کردند، پیشرفت های امارت اسلامی را در عرصه های سیاسی، اقتصادی و امنیتی قابل ملاحظه خواندند. آنان گفتند که به همکاری های خویش به هدف ثبات و بقای نظام ادامه می‌دهند. همچنان پیشنهادات شانرا در مورد مشکلات و سایر موضوعات مربوط باشندگان ناحیه های مختلف شهر کابل، شریک ساختند.
محترم مولوی ذاکرالله ذاکر ضمن خوش آمدید به آنان، گفت که قدرت های جهان در چند دهه گذشته به افغانستان تجاوز کردند، اما مردم جهاد را در برابر آنان با شهامت و فداکاری که هدف شان پاسداری از اسلام بود، به پیروزی رساندند.
مولوی ذاکر خاطرنشان کرد که بعد از پیروزی امارت اسلامی، امنیت در کشور تامین شده، پروژه های اقتصادی زیر کار است و افغان ها بخاطر افغانستان با ثبات، مستقل و پیشرفته تلاش می کنند.
موصوف گفت که فرمان عفو عمومی عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله به گونه کامل تطبیق می شود. وی اخراج مهاجرین از سوی کشورهای همسایه را نگران کننده خواند و از همه ثروتمندان افغانستان خواست تا با هموطنان عودت کننده، کمک و همکاری نمایند.#

## د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره کړنلاره جوړېږي

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي ریاست له لوري د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو لپاره د کړنلارې جوړېدو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې لومړنۍ غونډه ترسره شوه.
دغه غونډه، چې په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د چارو اداري، مالي، صنعت او سوداګرۍ، اقتصاد، کانونو او پټرولیم او عدلې وزارتونو، د افغانستان بانک او امارتي شرکتونو لوی ریاست استازو پهکې برخه اخیستې وه.
په غونډه کې د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو پر اړتیا او ارزښت خبرې وشوې. له تفصیلي بحث وروسته د بازار او خلکو لېوالتیا ته په کتو د سهامي شرکتونو رامنځته کېدل اړین وبلل شول چې له مخې به یې ثابته او غیر متحرکې پانګې په حرکت راوستل شي.
د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې د سهامي شرکتونو د رامنځته کېدو او د هغوی د فعالیتونو د تنظیم په موخه باید منظمه کړنلاره جوړه شي.#

## متقي: امریکا باید د افغانستان واقعیتونه درک او له اسلامي امارت سره تعامل وکړي

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محترم مولوي امیرخان متقي د سعودي عربستان په جده ښار کې له افغان کډوالو سره په یوه غونډه کې د متحده ایالتونو له لوري د افغانستان د واقعیتونه د درک پر اړتیا ټینګار وکړ.
محترم متقي په دې غونډه کې څرګنده کړه، چې نوموړي هغه امریکایي پلاوي ته چې په دې وروستیو کې کابل ته راغلی و، ویلي چې امریکا باید د افغانستان له اوسني نظام سره تعامل وکړي.
نوموړي د خپلې وینا په یوه بله برخه کې په افغانستان کې د ثبات پر ساتلو هم ټینګار وکړ.#

## ټولګټو وزارت تېر لمریز کال د ۱۹۸ پروژو چارې پیل کړې دي

د ټولګټو وزارت وايي، تېر ۱۴۰۳ لمریز کال کې یې د ۱۹۸ پروژو چارې پیل کړي چې له ډلې یې زیات شمېر بشپړې شوې او د ځینو نورو چارې په چټکۍ سره رواني دي.
د ټولګټو وزارت په خبرپاڼه کې راغلي، دغه وزارت یو له مهمو او سکټورې وزارتونو څخه دی چې د سړکونو، پلونو، پلګوټو، اوسپنیزې کرښې، د سړکونو د ساتنې او څارنې، د لویو لارو په اوږدو کې د جوماتونو رغولو او د ترافیکي علایمو د نصبولو مسئولیت په غاړه لري.
خبرپاڼه کې راغلي چې ټولګټو وزارت په تېر ۱۴۰۳ لمریز کال کې د سړکونو، پلونو او پلګوټو، اوسپنیزې کرښې، د سړکونو ساتنې او څارنې، واورو پاکولو، جوماتونو، د ترافیکي علایمو د نصبولو او د اجناسو په برخه کې د څه باندې ۱۹۸ پروژو رغنیزې او ترمیماتي چارې پیل کړې دي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، په دغو پروژو کې ۵۴ یې د سړکونو او اوسپنیزې کرښې، ۱۶ د ترافیکي علایمو د نصبولو، ۱۴ یې د جوماتونو، ۱۴ د واورې پاکولو، ۴۳ د سړکونو د ساتنې او څارنې او ۶۰ پروژې د اجناسو د تدارکاتو په برخه کې دي چې دا مهال یې د زیات شمېر پروژو کار بشپړ شوی او د ځینو نورو کار په چټکۍ سره جریان لري.
یاد وزارت لیکلي چې تېر کال یې ټولټال د ۱۱۷۴ کیلومتره سړکونو د ابتدایي مطالعاتو او امکان سنجۍ سروې، د ۳۸۵ کیلومتره سړک توپوګرافي سروې او د ۳۱۲ کیلومتره سړک د ډیزاین چارې بشپړې کړې دي او د ۲۷۲ کیلومتره سړک د ډیزاین کولو چارې جریان لري چې شاوخوا ۴۵ سلنه کارو نه یې پرمخ تللي دي. خبرپاڼه کې راغلي، ټولګټو وزارت په ټولیزه توګه د ۱۸۷۶ متره پلونو سروې او د ۱۹۴ متره پلونو ډیزاین تېر کال بشپړ کړی او د ۱۰۵۷ متره پلونو د ډیزاین چارې جریان لري چې ۵۵ سلنه چارې یې ترسره شوې دي.
د سرچینې د معلوماتو له مخې، یاد وزارت په تیر ۱۴۰۳ هـ.ش کال کې د کابل – کندهار لویې لارې په ګډون، د سړکونو او اوسپنیزې کرښې په برخه کې د ۵۴ پروژو کار پیل کړی چې د ځینو چارې یې بشپړې او د ځینو نورو کار په چټکۍ سره جریان لري.#

## عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی د پکتیا ولایت له والي او د یاد ولایت د ټولو امارتي ادارو...

...عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د پکتیا ولایت له والي محترم ملا مهرالله حماد، د علماوو شورا رئیس، امنیه قومندان، د استخباراتو رئیس او د یاد ولایت د ټولو امارتي ادارو مسئولینو سره وکتل.
غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې د پکتیا والي محترم ملا مهر الله حماد د راغلو مسئولینو په استازولې خبرې وکړې، او له عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله سره یې د پکتیا ولایت د وضعیت او د همدې ولایت د امارتي ادارو د فعالیتونو په اړه معلومات شریک کړل.
ورپسې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د مجلس ګډونوالو ته وینا وکړه، د پکتیا ولایت د مسئولینو فعالیتونه یې وستایل او زیاته یې کړه، الله تعالی یو ښه فرصت راوستلی دی، د الله تعالی شکر ادا کړئ چې د علم، د دین، د اسلام د خدمت کولو، او د اتفاق، اتحاد، د اخوت او ایماني ورور ګلوۍ د دې ټولو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده، نو ساتل او حفاظت یې پر موږ او تاسي پوري اړه لري، مسئولین دې خپل مسئولیت ته ښه متوجه شي له غفلت څخه دې ځان وساتي، د شرعي نظام د حاکمیت لپاره باید قربانۍ ورکړو حوصله باید ختمه نه شي او کوښښ باید وکړو چې اسلامي او شرعي احکام نافذ شي، په خاص ډول امربالمعروف نهي عن المنکر چې د اسلام اصلي هدف دی. اوس وخت دی چې په اقتصادي، سیاسي، او نظامي امورو کې شریعت تطبیق شي.
کوښښ وکړئ په خپلو منځونو کې ښه هماهنګي ولرئ، د مسئولینو اطاعت کوئ، د خپلو مربوطه وزارتونو له وزیر صاحبانو او رئیس صاحبانو سره ښه هماهنګي ایجاد کړئ او اطاعت یې وکړئ، ځکه د وزیر صاحبانو اطاعت پر ټولو مسئولینو لازمي دی او باید ښه ورته متوجه شئ. عالیقدر امیرالمومنین زیاته کړه، مسئولین د خلکو په خدمت کولو مکلف دي، لکه څنګه چې په تیر جهادي دور کې خلکو د مجاهدینو خدمت وکړ، اوس وخت دی چې مسئولین د خلکو خدمت وکړي او مسئولین باید د خپل ولایت د خلکو د مشکلاتو په حل کولو او په مربوطه ولایت کې د خلکو ترمنځ د دښمنیو، اختلافاتو او قومي تعصباتو په ختمولو او د ښه امنیت په راوستلو کې پوره کوښښ وکړي.
مسئولین دې ډیر کوښښ وکړي چې د خلکو تر منځ روغې جوړې وکړي.
وروسته مجلس نظام او خلکو ته د دعاېې په لوستلو سره پایته ته ورسېد.#

## ایران او متحده عربي اماراتو سره د اړیکو پر پیاوړتیا د متقي ټینګار

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محترم مولوي امیر خان متقي افغانستان لپاره د متحده عربي اماراتو او ایران له ځانګړو استازو سره په جلا جلا کتنو کې د دوه اړخیزو اړیکو پر پیاوړتیا او د سوداګرۍ او ټرانزیټي همکاریو پر پراختیا ټینګار کړی دی.
محترم متقي د متحده عربي اماراتو له ځانګړي استازي سره کتنه کې د افغانستان او متحده عربي اماراتو اړیکې مثبتې بللې او هیله یې څرګنده کړې چې دغه هېواد ته یې په وروستي سفر کې د شویو هوکړو په پلي کېدو سره د دواړو هېوادونو سوداګریزې او ټرانزیټي اړیکې لا پیاوړې شي.
محترم مولوي امیرخان متقي دغه راز د ایران د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال، محمد رضا بهرامي سره د دوه اړخیزو اړیکو، د اوبو مسایلو او په ایران کې د افغان کډوالو د وضعیت په تړاو خبرې وکړې. د سیاسي چارو شنونکي پر دې باور دي، چې دغه راز کتنې د افغانستان او سیمې د هېوادونو ترمنځ بېلابېلو برخو کې د اړیکو د پراختیا لامل کېدای شي. د روان لمریز کال له پیل راهیسې، د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د پاکستان، قطر، جاپان او د ملګرو ملتونو د استازو په ګډون د بېلابېلو هېوادونو له استازو سره د همکاریو د پراختیا په موخه کتلي دي.#


## ٦۰۰ معتاد در قندهار آموزش حرفه‌ای می‌بینند

برای ۶۰۰ معتاد مواد مخدر در ولایت قندهار، آموزش‌هایی در بخش حرفه‌های گوناگون ارایه می‌شود.
مسئولان مرکز درمانی معتادان می‌گویند این برنامه‌ها به دستور رهبری امارت اسلامی عملی می‌شود و هدف آن، فراهم‌سازی زمینه‌های کاری برای افراد درمان‌شده از اعتیاد است. داکتران می‌گویند برای کاهش تنش‌های روانی و احساس تنهایی، آموزش حرفه تأثیر مثبتی بر این افراد دارد. بر مبنای اطلاعات مرکز درمانی معتادان در قندهار، سالانه علاوه بر درمان حدود دو هزار معتاد، آموزش‌های حرفه‌ای و وسایل کاری نیز در اختیار آنان قرار داده می‌شود.#

## کار هفت پروژه انکشافی در ولایت سمنگان آغاز شد

مسئولان محلی در ولایت سمنگان می‌گویند که کار هفت پروژۀ انکشافی به ارزش بیش از ۹ میلیون افغانی در شهر ایبک، مرکز و ولسوالی فیروزنخچیر این ولایت آغاز شد. رئیس احیا و انکشاف دهات ولایت سمنگان می گوید که این پروژه‌ها شامل ترمیم و جغل‌اندازی دو کیلومتر سرک به عرض ۷ متر، اعمار شش باب ذخیرۀ آب آشامیدنی، آبرسانی خانه به خانه همراه با ذخیره آب و سیستم سولری آن، اعمار سه چکدیم و اعمار ۱۰۰ متر کانال آبیاری می‌باشد. به گفته موصوف، هزینۀ مجموعی این هفت پروژه ۹ میلیون افغانی می شود که از سوی کشور ناروی پرداخته خواهد شد. رئیس احیا و انکشاف دهات ولایت سمنگان می‌گوید که با آغاز کار این پروژه‌ها روزانه برای صدها تن زمینه کار فراهم خواهد شد و با تکمیل آن مشکل سرک، و کمبود آب آشامیدنی ۱۰ هزار و ۳۸۸ تن از باشنده گان محل مرفوع می‌گردد.#

## پروان کې د باغ درې بند د دویم پړاو د جوړېدو چارې پیل شوې



د پروان د باغ درې بند د دویمې برخې د چارو تړون چې د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري له یوه چینایي شرکت سره شوی و، چارې یې پیل شوې او ټاکل شوې چې په درېیو پړاوونو کې پایته ورسیږي.
د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست په دې تړاو جوړو شویو مراسمو ته ویلي، دغه بند د څه باندې ۲۲۶ میګاواټه برښنا د تولید وړتیا لري او ټولیز لګښت یې ۵۶۲ میلیونه افغانۍ دی. محترم ملا عبداللطیف منصور زیاته کړه چې د دغې پروژې په بشپړېدو سره به د ۲۲ زره زیاتو کسانو ته د دایمي کار زمینه هم برابره شي.
ورته مهال د تړون کوونکي شرکت مسئول وايي، د برښنا دغه بند د مس عینک پروژې په خاطر ځانګړې اهمیت لري او زیاته برخه برښنا به په مس عینک کې ولګول شي. د هغه په خبره، د برښنا د دغه بند د جوړولو چارې به اوو کلونو کې بشپړې شي.
د یادولو وړ ده، د باغ درې برښنا بند د جیوفیزیک او جیوټکنیک ارزونې هوکړه د اوبو او انرژۍ وزارت او د چین د ام سي سي شرکت ترمنځ کابل کې د چین د سفیر په حضور کې د ۲۰۲۴ زېږیز کال په ډسمبر میاشت کې لاسلیک شوې وه.#

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء لوړ مقام
د دفتر عمومي ریاست
د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

# ارگ پاڼه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## د هلمند والي سره د ریاست الوزراء اداري مرستیال کتنه

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د هلمند والي محترم مولوي عبدالرحمن مسلم کندزي سره وکتل

په دې کتنه کې لومړی محترم مولوي عبدالرحمن مسلم کندزي د یاد ولایت د عمومي وضعیت او محلي حکومتولۍ په اړه د معلوماتو ورکولو پرمهال وویل، په هلمند ولایت کې مجاهدین او محلي مسئولین خلکو ته د خدماتو او د هغوی د ستونزو د حل دوامدارې هڅې کوي. د هلمند والي همدارنګه د یاد ولایت له لارې له پاکستان څخه د راستنو شویو مهاجرینو ستونزو رسیدګي ته په اشارې وویل، د دې ولایت تول...

۵

## د سټنډرډ عالي شورا له لوري په بېلابېلو برخو کې ۳۰ سټنډرډونه...

...مولوي فیض‌الله تمیم د سټنډرډونو د ارزښت په اړه خبرې وکړې. هغه وویل، د معیاري سټنډرډونو د تطبیق په صورت کې د انسانانو او حیواناتو روغتیا خوندي کېږي او په ورته وخت کې د خوندي چاپېریال په رامنځته کولو کې هم مؤثر رول لري.

مولوي فیض‌الله تمیم زیاته کړه، په همدې موخه د سټنډرډ ملي اداره په بېلابېلو برخو کې تولیدي فابریکو، شرکتونو او اړوندو ادارو ته معیاري سټنډرډونه ور معرفي کوي.

په دغه غونډه کې د سټنډرډ ملي ادارې مسئولینو د خپل کلني راپور د شریکولو پر مهال وویل، د معیاري تولیداتو په موخه یې په بېلابېلو برخو کې سلګونه سټنډرډونه اړوندو تولیدي فابریکو، شرکتونو او ادارو ته ور معرفي کړي او همدا راز یې له ٦۱ تولیدي فابریکو او شرکتونو څخه نظارت هم ترسره کړی دی. د یادو فابریکو او شرکتونو له جملې د ځینو تولیدات د قناعت وړ او ډېری یې بیا پر معیار برابر نه وو، چې د دغه ادارې له لوري ورته لازمې سپارښتنې شوې دي.

د سټنډرډ عالي شورا د درملو، خوراکي او ساختماني توکو او نورو برخو کې د تصویب شوو سټنډرډونو پر بشپړ تطبیق جدي ټینګار وکړ او پرېکړه یې وکړه، چې د نه تطبیق او سرغړونې په صورت کې به د سټنډرډ ملي اداره د اړوندې تولیدي فابریکې او شرکت د فعالیت په اړه د تصمیم نیولو په موخه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته وړاندیز کوي.

همدا راز پرېکړه وشوه چې د تولیدي فابریکو او شرکتونو له تولیداتو څخه د دوامداره نظارت او د تصویب شوو سټنډرډونو د بشپړ تطبیق په موخه دې د سټنډرډ ملي ادارې په مشرۍ له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په همغږۍ تطبیقي پلان جوړ او عملي شي.

د سټنډرډ عالي شورا درېیمې نوبتي غونډې ته د خوراکي توکو او کرنیزو محصولاتو، درملو او ارایشي لوازمو، ساختماني توکو، الیکټرونیک او مخابراتو، نساجي او چرم، چاپېریال ساتنې، پلاستیک، طبي وسایلو، کانونو او د څارویو د حلالې برخو کې ۳۰ سټنډرډونه د تصویب لپاره وړاندې شول.

له هراړخیز بحث وروسته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري تصویب او د سټنډرډ ملي ادارې ته یې په جدي توګه د بشپړ تطبیق سپارښتنه وشوه او دغه اداره مکلفه وبلل شوه چې د یادو سټنډرډونو د تطبیق راپور وخت په وخت له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي. محترم ملا صاحب وویل، په دې سره به هېواد ته د بې کیفیته توکو د راتګ او تولید مخنیوی او په ورته وخت کې به د هېوادوالو د روغتیا او همدا راز توکو او خدماتو د کیفیت تضمین وشي.#




## آغاز سروی و دیزاین چهار بند بزرگ آب در...



...وزارت آب و انرژی می گوید که در سال ۱۴۰۴ هجری شمسی، کار سروی و دیزاین چهار بند بزرگ آب در ولایت‌های تخار، غزنی، هرات و بغلان آغاز خواهد شد.

برخی از کارشناسان، ساخت بندهای آب در مناطق مختلف کشور را گامی مهم در مسیر مدیریت منابع آبی، توسعه زراعت و تولید انرژی می‌دانند. شایان ذکر است، هم‌اکنون نیز کار روی برخی بندهای بزرگ آبگردان در کشور جریان دارد، شهروندان انتظار دارند که مسئولان امارت اسلامی برای جلب سرمایه گذاری و ایجاد فرصت های شغلی تلاش بیشتر نمایند.#

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با نماینده خاص امارات متحده عربی برای افغانستان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با محترم سیف محمد خلفان نماینده خاص امارات متحده عربی برای افغانستان دیدار نمود.

در این دیدار محترم سیف محمد خلفان نماینده خاص امارات متحده عربی برای افغانستان ابتدا از روابط نیک میان این دو کشور در عرصه‌های مختلف یادآوری کرد و گفت که این روابط نشانه دوستی میان امارات متحده عربی و افغانستان است.

وی همچنان به انکشاف روابط تجارتی و جلب سرمایه‌گذاری میان دو کشور اشاره کرد و افزود که کشورش خواهان توسعه و استحکام این روابط می‌باشد. نماینده خاص امارات متحده عربی از آمادگی کشورش برای همکاری با مهاجرین افغان که از کشورهای همسایه اخراج میشوند خبر داد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به محترم سیف محمد خلفان نماینده خاص امارات متحده عربی برای افغانستان، افزود که امارات متحده عربی به عنوان یک کشور دوست از سال‌های طولانی تا اکنون با افغانستان روابط تجارتی، اقتصادی و سیاسی دارد و ما امیدواریم در آینده نیز روابط هر دو کشور در عرصه های مختلف گسترش یافته و بیشتر از پیش تحکیم گردد.#

## روزانه ۳۵۰ عودت کننده در کمپ تورخم خدمات صحی دریافت می‌کنند


مسئولان در کمپ موقتی مهاجران در شهرک تورخم آمار می‌دهند که طور اوسط، روزانه ۳۵۰ نفر به بخش صحی این کمپ مراجعه می‌کنند.

مسئولان تأکید می‌ورزند که برای عودت کنندگان، در بخش‌های گوناگون، به‌ویژه در بخش ارایه خدمات صحی، تسهیلات فراهم کرده‌اند.

برخی از مهاجران اخراج‌شده خاطرنشان می‌کنند که به دلیل بدرفتاری‌هایی که در پاکستان با آن‌ها صورت گرفته، با چالش‌های روانی روبه‌رو شده‌اند.

براساس اطلاعات مسئولان کمپ موقتی مهاجران در شهرک تورخم، روزانه صد خانواده از سوی امارت اسلامی به ولایت‌های‌شان انتقال داده می‌شوند.#

## د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د جوزجان او سرپل ولایتونو له کانونو څخه لیدنه وکړه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست محترم الحاج ملا هدایت الله بدري په داسې حال کې چې د جوزجان والي او کانونو رئیس یې ملتیا کوله د جوزجان او سرپل ولایتونو له کانونو څخه لیدنه وکړه.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په جوزجان ولایت کې د باشکورد، طوطي میدان، چغچي، یتیم تاق د ګازو زېرمو، د سمنټو له کارخونې او په سرپل ولایت کې د قشقري، انګوت د تېلو زېرمو څخه لیدنه وکړه، د قراردادي شرکتونو مسوولینو ته یې د استخراج په برخه کې ځانګړې لارښوونې وکړې او د سیمو خلکو ته د کاري فرصتونو برابرولو په موخه یې ټینګار وکړ. همدارنګه دیادو ولایتونو له خلکو سره یې د کتنې پر مهال د هغوی ستونزې او وړاندیزونه واورېدل د حل په موخه یې د همکارۍ ډاډ ورکړ سربېره پر دې یې په جوزجان ولایت کې د د شتې لیلې شهیدانو له مزار څخه د لیدنې پر مهال د هغوی روح ته دعا هم وکړه.#

